محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۵/۰۷

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دیارلسمه برخه)

## پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۰)

### په ټپېښه کې د شوروي اتحاد او افغانستان ونډه

جنرال ضیاء چې د خپل منافقت له کبله په (ضیاالغدار) هم یادیده چې د خپل منافقت له امله د مرګ کندې ته وروغورځول شو. د جنرال ضیاء له غداریو یوه دا وه چې له افغانستان سره د (ژنېو) د سولې تړون په لاسلیک کولو سره، بیا یې هم له افغان یاغیانو سره د افغانستان د هغه مهال حکومت پر خلاف مرستې جاري وساتلې.

د ۱۹۸۸ز. کال په اپریل کې د ژنېو تړون د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب لاسلیک شو چې امریکا او شوروي اتحاد ناظرین او د تړون د پلي کېدلو ضامنان وو. د دغه تړون پر بنسټ شوروي پوځ له افغانستان څخه ووت. په تړون کې ویل شوي وو چې پاکستان به له افغان یاغیانو سره پوځي مرستې نه کوي خو پاکستان د تېر په څېر له یاغي ډلو ټپلو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ، هغه وو چې شورویانو وویل چې پاکستان ته باید د عبرت درس ورکړل شي. دا خبر «په مسکو کې د امریکا سفیر لهٔخوا پاکستان ته ورکړای شو چې شورویانو ویلي:**«موږ جنرال ضیاء ته د عبرت درس ورکوو.»**[1]

له بلې خوا د افغانستان، ولسمشر ډاکټر نجیب الله پاکستان ته ګوتڅنډنه وکړه چې د هغو ظالمانه کړنو او بې‌رحمیو په ځواب کې چې د افغانانو پر ورانديې یې دوام ورکړی سخته سزا به وويني.
د جنرال ضیاء له وژل کیدو، پوره درې میاشتې وړاندې د ۱۹۸۸ز. کال د مې میاشتې په ۱۷- ۱۸مه، شپې مهال د افغان حکومت یوه پوځي ترانسپورتي (انتونوفAn-26) الوتکه چې د هوا د خرابوالي له امله خوست ولایت ته څېرمه، له ډیورنډ کرښې ها خوا اوښتې او **د پاکستان د هوايي ځواک لهٔخوا د (بنو) ولسوالۍ په شاوخوا کې په قصدي توګه وویشتل شوه چې د الوتکې پر عمله سربېره له ۳۵تر۴۰تنو پورې خوستوال مسافرین او دولتي کسان په کې وسوځیدل.**

دا مهال چې ولسمشر ډاکټر نجیب الله په واک کې ؤ، د افغانستان پر راډیو او تلویزیون باندې د الوتکې پیلوټ هغه خبرې خپرې شوې چې له پاکستاني هوايي ځواکونو یې مرسته غوښتې وه، د پیلوټ خبرې چې په بېړني حالت کې یې، په پرله پسې توګه تکرارولې او د تلویزیون ویاند لهٔخوا ژباړل کیدې، هغه جملې چې زما په حافظه کې پاتې دي داسې وې:

---

[1]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۰مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**«... لطفاً مرسته وکړئ، د هوا د خرابۍ له امله مو مسیر غلط کړی، لارښوونه وکړئ، د ناستې اجازه راکړئ...»** د الوتکې پیلوټ د خبرو له خپرولو وروسته د افغانستان د ټلویزیون پر پرده باندې ولسمشر ډاکټر نجیب الله راڅرګند شو، ولسمشر، خپله سخته خواشیني او قهر ښکاره کړ او ډېره اغېزناکه وینا يې وکړه، ولسمشر د خپلې وینا په اوږدو کې ټینګه ژمنه وکړه ویې ویل:**«پاکستاني جنرالان چې زموږ بې‌ګناه خلک په لوی لاس په اور کې سوځوي، ډېر ژر به دوی هم په اور کې وسوځول شي.»** دا هغه خبرې دي چې ما په خپله د افغانستان پر ټلویزیون لیدلي او اوریدلي دي چې دا ډېره دردوونکي او غمجنه پېښه وه.

د شوروي او افغانستان، دا ډول جدي ګوتڅنډونو څخه ښکاري چې د دواړو هېوادونو استخبارات، د جنرال ضیاء او نورو پوځي چارواکو د وژلو هڅې ګرندۍ کړي وې. د پاکستان د ای‌ایس‌ای په وینا، «جنرال ضیاء او د پاکستان د ای‌ایس‌ای رییس اختر عبدالرحمن د افغانستان د استخباراتو خاد **[واد]**[2] د تور لیست په سر کې وو.»[3]

دا مهال د پوځي دیکتاتور، جنرال ضیاء ګڼ شمېر مخالفین په افغانستان کې اوسېدل چې ډېرو يې د افغان استخباراتو په مرسته په پاکستان کې اوپراتیفي عملیات کول چې د دغو ډلو څخه یوه هم د ذوالفقارعلي بوټو د زوی، مرتضی بوټو په مشرۍ د **(ذوالفقار)**[4] ډله ډېره فعاله وه، سره له دې چې مرتضی بوټو په اروپا کې اوسېده خو له کابل سره یې ټینګې اړیکې لرلې او خپل عملیات يې له کابل څخه ترسره کول.

لکه څرنګه چې د جنرال ضیاء د له منځه وړلو په موخه د شوروي اتحاد او افغانستان تر منځ پر ډېرو پلانونو کار روان ؤ، غالب ګومان دا دی چې یوه طرحه د ځانګړي ګازو کارول هم وې.
د ای‌ایس‌ای ډګروال محمد یوسف وایي، «کیدای شي دا ډول ګاز د افغانستان استخباراتو خاد [واد] او د هند استخباراتو (راؤ)[5] له شوروي اتحاد څخه تر لاسه کړي وي.»[6]

څېړونکي او رسمي کمیسیونونه په ځانګړي توګه لومړی کمیسیون، د خپلو پلټنو په پای کې دې پایلې ته رسیدلي چې د جنرال ضیاء د الوتکې پر پیلوټانو ځانګړی بې‌هوښه کوونکی ګاز کارول شوی دی، د ګازکارولو راپور د پاکستان لومړی کمیسیون چې مشري يې د پاکستان د هوايي ځواک قوماندان (عباس میرزا) کوله او ۶ تنه امریکایان هم ورسره مله وو، راپور خپور کړ، په راپور کې نورې هر ډول تخنیکي ستونزه او له بهر یا دننه په الوتکه کې چاودنې رد شوې خو دا يې وویل چې د الوتکې پاتې شونو کیمیاوي ازموینو وښودله چې ځینې بهرني عناصر له معمولي کچې څخه زیات شتون درلود، لکه د **pentaerythritol tetranitrate (PETN)** **نښې او د انټیمونی او فاسفورس پاتې شونې هم وموندل شول چې عموماً د الوتکو په جوړښت یا تېلو کې شتون نه لري.**[7]
راپور زیاته کړه چې «د الوتکې پر عمله باندې دننه په کابین کې کوم ډول کیمیاوي ماده چې پر اعصابو ژر اغېز کوي کارول شوي او عمله يې له پېښو غورځولې ده.

---

[2]: په ۱۹۸۶ز. کال کې د افغانستان د دولتي خدمتونو عمومي ریاست (خاد) تشکیل وزارت ته لوړ شو او نوم يې د دولتي امنیت وزارت، په دري: وزارت امنیت دولتي (واد) ته واوړول شو.
[3]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۰-۲۳مخونه
[4]: تلک خرس. ۲۶مخ
[5]: هغه مهال هندي استخبارات د افغان استخباراتو په څېر نه وو فعال، هغوی نه غوښتل د پاکستان واکمن ووژني او تر منځ يې لویه جګړه رامنځ ته شي، په غالب ګومان دا افغانستان ؤ چې د جنرال ضیاء کار يې وکړ.
[6]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۲مخ
[7]:https://www.dawn.com/news/1427540


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

د دا ډول بېبويه او بېرنګه ګازو شتون، د الوتکي عمله دې ته نه ده متوجه کړي چي دوی ژغورونکي (محافظوي) خولی پر سر او ماسکونه واغوندي، دا جوته شوه چي د عملي کسانو يو هم د ټکر پر مهال ځانګړي خولي نه وې په سر کړي.
کميسيون وويل چي دا ډول کيمياوي توکي ممکن د کوم بې ضرره لوښي، لکه د اوبو لوښی، ترموز، يا د ډاليو په پارسل کې ځای شوي وي چې الوتکې ته دننه ايستلو پر مهال کوم شک نه دی پرې شوی.»[8]

**د الوتکي په کابين کې پر کپتان مشهود حسن باندې د ډګرمن نجيب احمد وروستي غېرعادي غږونه او د الوتکې ناڅاپي غورځيدل دا په ګوته کوي چي دننه په کابين کې پيلوټان د کوم ډول وژونکي ګاز په کارولو سره بېسده کړای شوي دي چي پر پيلوټانو باندې د ګازو کارولو نظريه سمه او کره ده.**

د پورته مالوماتو پر بنسټ ويلی شو، هغه وژونکی ګاز چي د جنرال ضياء د الوتکي د پيلوټانو د مرګ سبب شو، د شوروي اتحاد د استخباراتو K. G. B لهخوا د افغانستان د دولتي امنيت وزارت (واد) ته ورکړل شوی وي چي بيا د جنرال ضياء د الوتکي په کابين کې د افغان استخباراتو په هلوځلو او د پاکستان د خلکو ګوند (پيپيپي) د ذوالفقار ډلي په همکارۍ کارول شوی دی.[9]



(د افغانستان د دولتي امنيت وزارت نښان)

د جنرال ضياء زوی اعجاز وروسته له ډېرو کلونو د خپل پلار د مرګ عاملين پيژندلي، هغه په ۲۰۰۷ز. کال کې د خپل پلار له وژل کيدو ۱۹ کاله وروسته د ذوالفقار ډله د خپل پلار په وژلو تورنه کړه او د پلار د غچ اخيستلو په موخه يې د کراچۍ په ښار کې پر بېنظير بوټو تروريستي بريدونه وکړل. «د ۲۰۰۷ز، کال د اکتوبر په ۱۹مه نېټه بېنظير بوټو د ولسمشري د ټاکنو په موخه د کراچۍ د هوايي ډګر له لاري پاکستان ته راغله، په سلګونو زره وګړي د هغې د ښه راغلاست لپاره هوايي ډګر ته راټول شوي وو، د سختو امنيتي تدابيرو سره، سره بيا هم د کراچۍ په ښار کې په لنډ واټن کې دوه چاودني ترسره شوي چي له امله يې لږترلږه ۱۳۰ تنه ووژل او په لسګونه کسان يې ژوبل کړل، په چاودنو کې بېنظيرې ته زيان ونه رسيده خو د هغې د سپرلۍ د ګاډي پنجره او دروازې زيانمني شوې.[10]

له دغو بريدنو وروسته «د بېنظيرې پلويانو، اعجازالحق د جنرال ضياء زوی (چي د جنرال پروېز مشرف د اوقافو وزير ؤ) په دې بريدنو تورن کړ، **اعجاز وويل چي زما پلار هم د ترهګرۍ قرباني**

---

[8]: تلک خرس: ډګروال محمد يوسف او مارک ادکين. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۱-۲۲مخ
[9]: د پيپيپي ګوند چارواکو، په ۲۰۱۲ز. کال کې د بېنظير بوټو، د وژلو په غچ کې، د امريکا له سيایاې سره د اسامه بن لادن په وژلو کې مرسته وکړه، د اسامه له وژل کيدو وروسته، د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې هيليري کلنټن او ولسمشر اوباما د پاکستان له حکومت، په ځانګړي توګه له ولسمشر اصف زرداري (چې د شهيدې بېنظير بوټو ميړه ؤ) مننه وکړه چې د اسامه د ځای ښودلو په اړه يې مالومات ورکړي وو. (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ په افغان جرمن آنلاين پورتال کې د محمد انور اخڼ د ليکنو ۱۱مه برخه: د جمهوريت د سقوط عوامل، د پاکستان رول.
[10]: بېنظير بوټو: بیٰنظير بوټو دختر شرق: ... ۱۳مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**دی چې د (ذوالفقار) ډلې له خوا یې پلار وژل شوی ؤ او نومړي ډله په بوټو پورې تړلې ده... .»**[11]

بې‌نظیرې ټاکنې وګټلې خو د جنرال ضیاء د مرګ په هکله یې کومه پلټنه ونه کړه، هغه پوهیدله چې جنرال ضیاء د ذوالفقار ډلې (چې د هغې وررور مرتضا بوټو یې مشري کوله) وژل شوی دی خو ظاهراً یې ویل:«د ضیاء وژل یوه خدایي پېښه وه.»[12]

د جنرال ضیاء زوی اعجاز د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې بې‌نظیربوټو چې لومړی وزیره وه، د پېښې د رښتیا په موندلو کې جدي نه وه، آیا دا سیاسي غچ ؤ؟

اعجار وویل: **هم سیاسي غچ او څه فشار هم ؤ.**[13]

**د دې ځېړنې په پای کې دې پایلې ته رسیږو چې جنرال ضیاء د K. G. B او د افغانستان د استخباراتو، د دولتي امنیت وزات (واد) په مرسته، د ذوالفقار وسلەوالي ډلې په لاربښوونه، د پاکستان په پوځ کې، په ځانګړې توګه د هوایي ځواکونو دننه، د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو د خواخوږو لەخوا له منځه وړل شوی دی.**

څېړونکي په دې اند دي چې هغه مهم کسان چې په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان د جګړې پر مهال یې د افغان یاغیانو د روزنې او تجهیز کولو په ستره پروژه کې برخه درلودله، نږدې ټولو په همدې الوتکه کې وسوځیدل.

نېټه:۱۴۰۵/۲/۱۷ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخګر نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

---

[11]: آزادی راډیو:۱۳۸۶/۷/۳۰ل. ل.

[12] : تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۰مخ

[13]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ